عبدالله نجات

کابل، 5 سنبله 1387 هـ ش مطابق 4 سپتمبر 2008م

# دګران سیاسنګ دادبی فرهنګی هڅو ددرانوی په اړه ددرانه مشربناغلی سیستانی دپیرزوینی هرکلی کوم

زه دخپلو خبرو په سر کی کابل ناتهه ویب پاڼی څخه ددغه لویی انسانی پیرزوینی بهیرله کبله چی دافغانی تولنی دعلمی ستو او فرهنګی ژوندیو شتمنیو ددرناوی لپاره یی پیل کړی دزړه له کومی مننه کوم اوورته کور ودانی وایم.او بل کور ودانی ګران سیستانی صاحب ته وایم . زه په خپل وار سیستانی صاحب سره همغږه کیږم.او پښتون دافغانیت پرځای کولو ته را بولم .

وایی چی عزت دهر چا په خپل لاس کی دی.نه په زور کلی کیږی او نه په زور څوک دچا په زړونو کی ځای نیولی شی.اوښایی دابه دخلقت لوربینه وی چی مینه او لویی دهر چا په برخه هم نکیږی .پرتورو زړونو تورتمونه واکمن وی نو هغه کسان چی دسپیڅلی انسانی مینی له مخی او دخپل ضمیر اولوړی انسانی پوهی له مخی انسانیت ،ښکلا او نیکی پالنه خپله دنده بولی ، دغه راز انسانان دلویو زړونو خاوندان او تورتمونو سره دمبارزی دلاری مخکښان او سرښندونکی دی.دلوی فکر خاوند هغه څرک ته ګوری چی ده موندلی اونور یی نه وینی پایی له لیدلو ویره لری.دلویو هیلو خاوندان په دی تمه او اسره کی ندی چی څوک دی ورته کور ودانی ووایی او نه دخپلو سپیڅلو هیلو او ارمانونو په لاره کی پدی تمکیږی چی څوک خوشالیږی او څوک خپه کیږی!.دوی دخپل محبوب پرلوری ګام اخلی او یوازی خپل محبوب او سپیڅلی څرک ته ګوری .څوک چی لویو چارو ته زړه ښه کوی له پایلویی ویره هم نه لری.

کوم سیاسنګ چی زه بیژنم او ما لیدلی دهغه نیت ،لاره او اراده دچادخوشالیدو او خپه کیدو لپاره نده.دی چی څه کوی هغه دده دزړه غږدی په خپل کاراو دهغه پرریښتینولی بشپړباور لری نو له کرکو ډک کسان به یی پرانسانی موخوڅه کوتخنډنی وکړی؟سیاسنګ له چانه خیر او دعا نه غواړی او نه دچا له سپکو سپرو له ویلوڅخه ویره لری.سیاسنګ له توکمیزو خبرو پاک دی.دده وګړنیز انسانی دریځ دده دښی روزنی او لویوالی ښنه ده.دی خپل وولس ُخپل هېواد اودهر څه په سرکی انسانیت او دانسانیت جوهرآزادی ،عدالت اودمینی او هنری ښکلا په پسول ښکلل شوی ژوند سره مینه لری .

دی دیوه سرتیری روشنفکر په توګه دسبا څرک ته ګوری او نوره خلک هم هماغه لور ته رابولی دده لرلید ساده اوشډل ندی. دی څو اړخیز انسان دی.دده پالنه او روزنه دده داړیکو له ښه ماحول نه سرچینه اخلی .کومه لټه چی ده درحمان بابا ،حمید اوداسی نوروپښتنی شاعرانوپه اړه پیل کړی دپښتنی فرهنګ اوادب دزیرمورااسپړلوتر څنګ دسپیڅلو هیلو اوښکلاو سره دنورو خلکو اشنا کول اودوولسونو تر منځ دګډی وینی دسرچینو رابرسېره کول او دورور ګلویز ګډژوند دګډ مقصدلورو پېژندل دی .پښتون که خپل وولس خپل افغانیت او ددی هېواد وولسونوسره مینه لری پښتون روڼاندی به نه یوازی دسیاسنګ دپښتنوشاعرانو دژوری پیژندګلوی په برخه کی دسیاسنګ دهڅودرناوی کوی تر هر څه لوړ او تر هر څه دمخه به دسیاسنګ دلویوالی ،انسانی لرلید اوافغانی مینی او ورور ګلوی درناوی کوی.

مامځکی هم وویل یو وار بیا تکراروم چی سیاسنګ دسیاسی او ایدیولوژیکو موخو له مخی دپښتنو شاعرانو درناوی او پیژندنی ته مخه نده کړی .ده په آګاهانه توګه خپله انسانی دنده پرځای کړی .که چیری دده تولنی ادبی هڅی وګوری دده په کارونو کی یوه لویه انسانی داعیه پرته ده تولو ته په ځانګړی توګه پښتون ته ښایی دسیاسنګ دانسانی داعیی ملاتړ او ملګرتیا وکړی .سیاسنګ ته دافغانی اوانسانی مینی او ملګرتیا لاس ورکړی دهغه په انسانپاله غورځنګ کی ګدون وکړی..دښمن دخلکو تر منځ طبیعی توپیرونو نه دتربګنیو ،بدوالی اوتضادونو دراولاړولو لپاره ناوړه کار اخلی او سیاسنګ پدی ناوړه نیت ډیر ښه پوهیږی .دی ځان اړ بولی چی هغه خبره چی ښایی دیوه پښتون له خولی نه ښه تعبیر نه شی په خپله غاړه اخلی . او دده دغه کار نه دا زدکړه تر لاسه کیږی چی مونږ تول خپلی کمزورتیاوی پخپله په ښنه او تر رغوونکی انتقاد لاندی ونیسو او پردیو لاسونو ته داموکه ورنکړو چی زمونږ وصی ووسی اوهغه لاری باید وترو کومی چی ددی خاوری داوسیدونکو سلامتی او ګډکور ورانوی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

کوم سیاسنګ چې زه پېژنم هغه دلوی او سپېڅلی فکر او ژوری پوهی خاوند او دده دکتو غشی لوړ واتڼه الوت لری . دحقایقو تل ته ننوځی.نودغه شانی یوه لویه ستړه ملی شتمنی اولاربښوونکی مشال چې په ګونګه خړو کی درڼا پرلور لار پرانیزی له پامه غورځول دانسانیت اوافغانیت دواړو په وړاندی پاتی راتلل اودآزادی،نیاو او عدالت له حقیقته دلاری بېلول دی.

زه دپوهی ،ادب اوفرهنګ له ټولومینه والونه ، ددی ویاړلی هېواد ژوندیو نومیالیو پوهانو نه او دغه راز ادبی فرهنګی هڅوالو ټولنو او انجمنونو څخه داهیله کوم چې دخپل ځان،هېواد اودانسانی فرهنګ او ادب ددرناوی پخاطر دستر لیکوال سیستانی صاحب هېوادنی بلنی سره همغږه شی او دعلمی او ادبی مشرانو ددرناوی له لاری هغو ناوړه هیلو ته دپای ټکی کېږدی کوم چې وایی« بېل یی کړه اېل یی کړه!».
په پای کی زه ګران سیاسنګ ته دده دلویو اوسترو ادبی هڅومبارکی وایم .
روغتیا او رڼا دی ملګری اوسه. !
ستاسو دوست او ستا دهڅو مینه وال- عبدالله نجات


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de